# د کالیفورنیا د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتي د ۵ مي نیټي په ټاکنو کي څنګه رایه ورکړئ

**چمتو شئ**

که تاسي د مخه د رايي ورکولو لپاره خپل نوم ليکلی وي، Voterstatus.sos.ca.gov سايټ ته ننوځئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چي ستاسو ټول معلومات سم دي. که تاسي خپل نوم نه وي ليکلی يا بيا نوم ليکلو ته اړتيا لرئ ځکه چي که چيرې تاسي بلې سيمي ته تللي ياست يا مو خپل نوم بدل کړی دی، نو تاسي کولای شئ دي سايټ registertovote.ca.gov ته ننوځئ او په آنلاين ډول خپل نوم وليکئ يا د ډي ايم وي (DMV)، پوسته خاني، کتابتون، يا د خپل ايالت د ټاکنو دفتر څخه فورمه ترلاسه کړئ. تاسو همدارنګه، د اکتوبر د ۲۱ مي نيټي څخه وروسته کولای شئ د ټاکنو پر ورځ (سه شنبه، د نومبر د مياشتي په ۵ مه نيټه) په خپل ټاکنيز دفتر او رايي ورکولو په مرکز کي خپل نوم وليکئ. **که چيرې تاسي د دوشنبي په ورځ، د اکتوبر د مياشتي تر ۲۱ مي نيټي پورې خپل نوم ليکلی وي، تاسي به د خپلي رايي پاڼه د ليکونو د صندوق له لارې تر لاسه کړئ.**

**لومړی لاره - د ليک لېږلو (Mail) له لارې رايه ورکړئ**



تاسي کولای شئ رايه د **ليک لېږلو** له لارې بيرته راولېږئ. هيڅ پوستي لګښت ته اړتيا نشته**!** خپله د رايي ورکولو پاڼه ډکه کړئ، او په چمتو شوي پاکټ کي يې واچوئ، پاکټ لاسليک کړئ، نيټه پرې وليکئ او مهر يې کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چي دا ليک د نومبر د مياشتي تر ۵ مي پورې رسيدلای وي.

**دوهمه لاره – د رايي په صندوق کي يې واچوئ.**



تاسي کولای شئ د خپلي رايي پاڼه د خپل ايالت د ټاکنو دفتر يا د رايي ورکولو په بل ځای کي واچوئ. ډير ښارونه هم د ليک د اچولو (د رايي پاڼي) لپاره خوندي **صندوقونه (ډراپ بکسونه)** لري چي د اکتوبر له پيل څخه هلته شتون لري. تاسي کولای شئ په caearlyvoting.sos.ca.gov کي د ليکونو د اچولو د صندوقونو (ډراپ بکسونو) ځايونه وګورئ. ډاډ ترلاسه کړئ چي تاسي دا ليکونه د نومبر د مياشتي د ۵ مي نيټي د ماښام د اته (۸) بجو څخه مخکي هلته واچوئ.

**دريمه لاره - په حضوري توګه رايه ورکړئ**



د ټاکنو ورځ د سه شنبي په ورځ د نومبر د مياشتي ۵ مه نيټه ده. د ټاکنو يا رايي ورکولو مرکز به د سهار له اوه **(۷) بجو څخه د ماښام تر اته (۸) بجو پورې** پرانستي وي. تاسي کولای شئ د رايي ورکولو خپل ځای له دغه لينک له لارې پيدا کړئ: sos.ca.gov/elections/polling-place

**ډيری ښارونه به د شنبي، اکتوبر د مياشتي له ۲۶ مي نيټي څخه تر سه شنبي، د نومبر د مياشتي تر ۵ مي نيټي پورې په حضوری توګه د رايي ورکولو اسانتيا برابره کړي.** د ټاکنو د خپل ځايي دفتر سره وګورئ يا د رايي ورکولو ځايونه په caearlyvoting.sos.ca.gov سايټ کي وګورئ. د دې لپاره چي په حضوري توګه رايه ورکول تاسي ته نور هم اسانه شي، نو د رايي ورکولو لپاره خپله هغه پاڼه چي د ليکونو د صندوق له لارې مو ترلاسه کړې، د رايي ورکولو مرکز ته راوړئ.